# د شری، ممپس، روبیلا او د چیچک څخه ځان وساتئ

## د MMR-Var واکسین



**دا واکسین مو د کومو ناروغیو پر وړاندې ساتنه کوي؟** دا په یو کې د څلورو واکسینونو ترکیب دی چي د لاندی ناروغیو په وړاندې ساتنه کوي.

**شری:** روبیولا یا سور شری یا سرخکان): د یو ویروس له امله رامینځته کیږي چې په اسانۍ سره د هوا له لارې خپریږي کله چې یو څوک د شری ناروغی لری او ټوخی یا پرنجی کوي. دا د لوړې تبې، ټوخي، د پوزې بهېدل، د سترګو د سوروالی، سور ټاپه یی داغ لامل کیږي. جدي پېښې یی نادري دي مګر کولی شي د منځني غوږ او سږو انتاناتو لامل شي؛ د مغز پړسوب چې کیدای شي د جټکو، کانه کیدو، او دماغی زیان سبب شي.

**ممپس:** د یو ویروس له امله رامینځته کیږي چې د ټوخي، پرنجی، یا د اخته کس د لعاب سره د تماس په واسطه (د بیلګې په توګه د ښکلولو یا د لوبو د سامانونو د شریکولو) له لارې خپریږي . دا د تبي، سر درد، ستاسو د ژامې په شاوخوا کې د غدو د پړسوب، د خصیو یا تخمدانونو پړسوب، او کانه کیدو لامل شي.

**روبیلا:** (جرمن شری، له سور شري څخه توپیر لري) د یو ویروس له امله رامینځته کیږي چې د ټوخي یا پرنجی په واسطه خپریږي .دا کولی شي تبه، د ستوني درد، د غاړې د غدو پړسوب، د بندونو پړسوب پیدا کړي .په امیندوارۍ کې روبیلا کولی شي د ماشوم د ضیاع یا معلولیت لرونکي زیږون لامل شي.

Varicella (chickenpox) یو ویروس دی چې کولی شي تبه او وړی خارښت لرونکي داني رامینځته کړي چې د اوبو څخه ډکی ښکاري. دا په اسانۍ سره د ټوخي، پرنجي سره د هوا له لارې او د خلاصو داغونو په لمس کولو سره خپریږي. وروسته له دې چې تاسو ویروسیلا باندې اخته شي، ویروس ستاسو په بدن کې پاتې کیږي. چې دا کولی شي یو ځل بیا فعال شي او د شینګل سبب کیږي چې د پوستکي دردناکه رشونه یا دانکی دی.



**څوک باید دا واکسین ترلاسه کړي:**

د معمول واکسینونو د یوې برخې په توګه ماشومان باید دا واکسین له ۱۲ میاشتو څخه پیل او تر ۱۲ کلونو پورې ترلاسه کړي. دوی معمولا ۲ دوزونه ترلاسه کوي (په ۱۲ او ۱۸ میاشتنی کې).

که دوی د ۱۸ میاشتني دوز نه وي ترلاسه کړي، دوی کولی شي دویم دوز په ۴ کلنۍ کې ترلاسه کړي.

**څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟** تاسو ممکن دا واکسین ترلاسه نه کړئ که تاسو د دې واکسین یا ورته واکسین د یوې برخې سره حساسیت یا وروسته جدي/غیر معمولي جانبي عوارض پیدا کړي، د معافیت سیستم مو ضعیفه وي او یا هم امیندواره یاست. په هرصورت، ډیری خلک په البرټا کې د دې واکسین لپاره وړ دي.



**د دې واکسین جانبي عوارض څه دي:** جانبي عوارض یی لږ او لنډمهاله دي، مګر کولی شي د واکسین کولو څخه تر۶ اونیو وروسته پورې څرګند شي.

. په جانبي عوارضو کې کېدای شي د ستني یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، درد ، ژړل ، ستړیا ، خارښت ، تبه ، ضعیفه اشتها د شری په څېر داغونه (واړه سره بخار) یا د ویریسیلا په څېر داغونه (یو ډول رش چې سرونه یی اوبو پواسطه دک وی) . که ستاسو ماشوم د ویروسیلا په څیر رش پیدا کړي، دا پټ وساتئ او د امیندواره خلکو، نوي زیږیدلي ماشومانو، او د کمزوري معافیت سیستم لرونکي خلکو څخه یی لرې وساتئ. جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د پیچکاري ځای کې د یخ ، لوند ټوکر په ایښودلو یا د تبي او درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درمل کارولی شو.

**که تاسو کومي اضافي پوښتني لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلی؟ تاسو کولی شئ:**

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنۍ ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association
19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19
Financial contribution:
Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada
ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE